رساله نمبر: 67

شَیخِ طَرِیقَت، اَمِیرِ اَہلِسُنّت، بانیءِ دعوتِ اِسلامي، حَضرَت علّامه مولانا ابُو بِلال
مُحمّد اِلیاس عطّار قادِري رَضَوي
دامت برکاتهم العالیة

پښتو ترجمه:
مجلِسِ تراجِم
(دعوتِ اسلامي)

# زه خپله اِصلاح غواړم

(تحریج شُده)



اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# د کتاب لوستلو دُعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښ دا لاندي دُعا لولئ

اِنْ شَآءَ الله تعالٰی څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَام

ترجمه: اے الله جَلَّ جَلالُهٗ په مونږه د عِلم او د حِکمت دروازې برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګۍ والا!

(مستطرف ج۱ ص۴۰ دار الفکر بيروت)

(اول او آخر کښ يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

طالب غم مدینہ بقیع ومغفرت


د رسالې نوم: زه خپله اصلاح غواړم

اول ځل: ..............

تعداد: ..............

ناشِر: مَکْتَبَةُ الْمَدِیْنَه عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المَدينه کراچۍ.


مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالې د چاپ کولو اجازت نشته

## کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ

که د کتاب په طباعت کښ څه ښکاره خامي وي يا پاڼرې کمي وي يا په بائنډِنګ کښ مخکښ وروسته لګيدلي وي نو مَکْتَبَةُ الْمَدِیْنَه ته رجوع اوکړئ.

# زه خپله اصلاح غواړم

د شيخ طريقت اَميرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د بيان دا رِساله ”میں سدھرنا چاہتا ہوں“ په اردو ژبه کښې ليکلې شوي ده.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالې په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي يا کمې، زياتې اومومئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دې چه مجلس تراجِم ته خبر وکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پيشکش:

## مجلسِ تَراجِم دعوتِ اِسلامي


برائے رابطہ:

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المَدینہ کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 7213

**Email:** translation@dawateislami.net


www.dawateislami.net

# فهرست


زه خپله اصلاح غواړم .......................................... 1
جَنَّت غواړې که دوزخ؟.......................................... 2
د آخرت تیاري .......................................... 3
روښانه مُستقبِل.......................................... 4
عجیبه حساب .......................................... 6
نه د پښیمانۍ احساس شته او نه د آخرت یَره .......................................... 7
د ماشوم والي خطا ورياده شو.......................................... 8
د ماشوم والي ګناه د ياد ساتلو عجيبه انداز .......................................... 9
په ناقِصو نيکو اعمالو فخر کول.......................................... 9
نيکي وکړه او هيره ئې کړه.......................................... 10
نن دِ څه څه کړي دي .......................................... 10
**د فاروقِ اعظم** رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنۡهُ **عاجزي**.......................................... 11
مُحاسَبَه څه ته وائي .......................................... 12
په بله ډیوه ګوته ایښودل .......................................... 13
کله به هُم بره ونه ګورم.......................................... 14
که د جَنَّت نه حصار کړې شوم نو بیا! .......................................... 15
هتکړۍ او بیړۍ.......................................... 17
د ساګانو امیل.......................................... 18
بې عمله بې وقوفه دي .......................................... 19
د دوزخ په دروازه نوم .......................................... 20
د نادانۍ اِنتِها.......................................... 22
د بخښنې اُمِید لرل کله بې وقوفي ده؟ .......................................... 23


www.dawateislami.net

وربشي كرل او د غنمو اُمِّید بې وقوفي ده ........................................23

د جَهنَّم تُخم کرل او د جَنَّت د فصل انتظار! ....................................25

مُصیبت د عِبرت باعِث دي........................................................25

الله تعالٰی روزي ورکولو والا دې او بیا هم ........ ..................................26

الله تعالٰی د هر یو د بخښني ذِمَّه نه ده اخستي خو.............................27

د خپلي اصلاح د پاره توبه وکړئ.................................................29

ښه ښه نِيَّتونه............................................................................31

د ”اِثمِـد“ د څلورو حُروفو په نِسبت ...........................................33

د رانـجو لګـولو څلور مَدَنـي ګلونه ...............................................33


www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# زه خپله اصلاح غواړم

شيطان که هر څومره ناراستي درولي خو تاسو دا رساله پوره ولولئ
اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ په خپل زړه کښې به مدني انقلاب محسوس کړئ

## د نِفاق او د اور نه خلاصي

حضرتِ سَيِّدُنا اِمام سخاوي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه نقل فرمائي چه: سرکارِ دوعالم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلي دې: ”چا چه په ما باندې يو ځل درود شريف وليږلو [يعني ولوستو] الله تعالیٰ په هغه لس رحمتونه نازلوي او څوك چه په ما لس ځله درودِ پاك وليږي الله تعالیٰ په هغه سل رحمتونه نازلوي او څوك چه په ما سل ځله دُرُودِ پاك وليږي الله تعالیٰ د هغه د دواړو سترګو ترمينځه وليکي چه دا بنده د نِفاق او د دوزخ د اور نه بَري [يعني آزاد] دې او د قيامت په ورځ به هغه د شهيدانو سره ساتي.“ (اَلْقَوْلُ الْبَدِيع ص ۲۳۳، موسسة الريان بيروت)

ہے سب دعاؤں سے بڑھ کر دعا درود و سلام
کہ دفع کرتا ہے ہر اک بلا درود و سلام

د هرې دُعا نه ده غټه دُعا دُرود و سلام
لرې کوي هر مصيبت او بلا دُرود و سلام

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# جَنَّت غواړې که دوزخ؟

اِمام ابُونُعیم اَحمد بِن عبدُالله اِصفَهاني رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه (وفات ٤٣٠ هجري) په ”حِلیَةُ الاولیاء“ کښې نقل کوي چه: حضرتِ سَیِّدُنا اِبراهیم تَیمي رَحْمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَیْه فرمائي چه: یو ځل ما ځان سره دا سوچ وکړو چه زه په جَهنَّم کښې یم او د اور په زنځیرونو کښې کلك تړلې شوې یم او زقوم (یعني زهرژن ازغي لرونکې بوټې) خورم او د دوزخیانو وینې او زَوې څښم. د دې سوچونو نه پس ما د خپل نفس نه تپوس وکړو چه: وایه، ته څه غواړې؟ (یعني د جَهنَّم عذاب غواړې یا د دې نه خلاصې؟) نفس مې اُووئیل چه: (خلاصې غواړم ځکه) ”زه غواړم چه دُنیا ته بیرته لاړ شم او داسې اعمال وکړم چه د هغې په وجه را ته د دې دوزخ نه خلاصې راکړې شي.“ د هغې نه پس مې دا سوچ جوړ کړو چه زه په **جَنَّت** کښې یم او د هغې میوې خورم او د هغې د **وَلـو** [یعني نهرونو] نه شربتونه څښم او د حورو سره ملاقات کووم. د دې سوچونو نه پس مې د خپل نفس نه تپوس وکړو چه: د څه څیز خواهش لرې؟ (د جَنَّت که د دوزخ؟) نفس مې اُووئیل چه: (د جَنَّت خواهش لرم ځکه) زه غواړم ”چه دُنیا ته لاړ شم او نیك اعمال وکړم چه د جَنَّت ډیر نعمتونه حاصل کړم.“ نو بیا مې

خپل نفس ته اُووئيل چه: فِي الــحال تا ته مُهلت درکړې شوې دې. (يعني اے نفسه! اوس ته پخپله ځان له لاړ غوره کړه چه سم شې او جَنَّت ته لاړ شې او يا خراب شې او دوزخ ته لاړ شې! نو اوس ته په هُم دې حساب اعمال کوه) (حِلْيَةُ الْاَوْلِيَاء ج٤. ص٢٣٥، رقم ٥٣٦١ دار الکتب العلمية بيروت)

کچھ نیکیاں کما لے جلد آخرت بنا لے
کوئی نہیں بھروسہ اے بھائی! زندگی کا

زر زر وکړه نيکئ آخرت بنه کړه
زما وروره هيڅ په دې ژوند يقين مه کړه

صَــلُّــوْا عَــلَى الْــحَــبِـيْــب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د آخرت تياري

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! لږ سوچ وکړئ چه زمونږه بُزرګانِ دين رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰى به د خپل نفس د اصلاح د پاره په څه طريقه د هغه محاسَبه کوله او هغه به ئې په قابو کښې د ساتلو کوشش کولو او په خطاګانو به ئې رټلو، بلکه کله کله به ئې ورته سزاګانې مقررې کړې او هر وخت به ئې د اللّٰه تعالىٰ د يَرې نه د خپلې اصلاح کوشش کولو، بيشکه د داسې خلقو کوششونه رنګ هُم راوړى. په قُرآنِ

مجيد کښې په پينځلّسمه سيپاره سُورۀ بنــی اِسرائِيل، آيت نمبر١٩
کښې الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰی اِرشاد فرمائي:

وَمَنْ اَرَادَ الْاٰخِرَةَ وَسَعٰى لَهَا
سَعْيَهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓىِٕكَ كَانَ سَعْيُهُمْ مَّشْكُوْرًا ﴿۱۹﴾

اعلٰی حضرت، اِمامِ اهلِسُنّت، مُجَدِّدِ دِين و مِلّت مولانا شاه
اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په خپله مشهوره تَرجَمَهٔ قُرآن كَنزُالْاِيمان
کښې د دې ترجمه داسې فرمائي: "او څوك چه آخرت غواړي او د هغې د
پاره هغسې کوشش وکړي او وي د اِيمان خاوند نو د هُم هغوئې کوشش سر ته
ورسيدو."

## روښانه مُستقبِل

نن زمونږه حالت دا دې چه د خپل "دُنياوي صبا" (يعني د
مستقبل) د بهتر کولو د پاره خو ډير غور او فِکر کوو او د هغې د پاره
هر وخت د قِسم قِسم سهولتونو راجمع کولو کوششونه کوو، بينك
بيلينس ښه ډيروو، کاروبار له ښه ډيره ترقي ورکوو او د آئنده دُنياوي
راحتونو د حاصلولو د پاره قِسم قِسم منصوبې جوړوو چه په څه
طريقه مو دا "دُنياوي صبا" بهتر شي يعني دُنياوي مستقبل مو ښه

www.dawateislami.net

شي، خو افسوس! مونږه د خپل "اُخروي صبا" (يعني د آخرت) د بهترئ د فِکر نه بالکل غافِله او د دې په تيارئ کولو کښې ډېر زيات سُست يو. حالانکه صرف د دې دُنياوي صبا د **بهترئ** په انتظار کښې د بېشميره نادانو انسانانو ارمانونه د مرګ په ذريعه نيمګړي پاتې شي او د روښانه مستقبل د خوشحالو حاصلولو په ځائ **د تورو تيارو قبر** ته کوز کړې شي او بيا د غم په هغه کنده کښې پراته وي. صرف د دُنياوي ژوند د بهترولو په فِکرونو کښې ډوب اوسيدل او صرف د هُم دې د پاره منډې تررې وهل او د خپل آخرت د بهترئ د پاره د فِکر او عمل نه غافله اوسيدل او د تير ژوند د اعمالو خپله محاسبه نه کول او آئنده د ګناهونو نه د ځان ساتلو او نيکو اعمالو پـخه اِراده نه کول سراسر نقصان او تاوان دې. او عقلمند هُم هغه دې چا چه د آخرت حساب ياد وساتو او د خپلې اِصلاح د پاره ئې د خپل نفس په سختئ سره مُحاسَبه وکړه او په ګناهونو ئې افسوس وکړو او د هغې د بد انجام يَره ئې محسوس کړه. لکه څنګه چه زمونږه د اَسلافو طرزِ عمل وو. چنانچه

www.dawateislami.net

## عجیبه حساب

**حُجَّةُ الاِسلام** اِمام **محمّد** غزالي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه نقل کوي چه:
**حضرتِ سَیِّدُنا اِبنُ الصِّمَّه** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه یو ځل خپله داسي **مُحاسَبه** وکړه چه خپل عمر ئې وشمیرو، نو هغه (تقریباً) **شپیته کاله** جوړ شو. دي شپیته کالو له ئې په دولسو کښې ضرب ورکړو نو **ووه سوه او شل** [۷۲۰] میاشتي جوړې شوې. ووه سوه او شلو له ئې په دیرشو کښې ضرب ورکړو نو حاصِلِ ضرب **یو وِیشت زره او شپږ** سوه راغې، دا د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د مبارك عُمر ورځې وې. **بیا** ئې خپل ځان ته اوفرمائیل چه، که زما نه هره ورځ یوه ګناه هُم شوي وي نو د اوسه پورې رانه یو وِیشت زره او شپږ سوه ګناهونه وشو! حالانکه په دي موده کښې به داسي ورځې هُم شاملي وي چه په هغې کښې به زما نه په یوه یوه ورځ کښې د زرو پورې ګناهونه هُم شوي وي. دا ئې اووئیل او د **الله تعالیٰ** د **یَرې** نه په رپیدو شو بیا ئې ناڅاپه د خُلې نه یوه **چغه اُووتله** او په زمکه ئې تشریف راوړو [یعني راپریوتلو]. چه خلقو وکتلو نو د بدن نه ئې رُوح ختلې وو. (کیمیائے سعادت، ج۲، ص۸۹۱ تهران)

# نه د پښېمانۍ احساس شته او نه د آخرت يَره

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** غور وکړئ چه زمونږه د بُزرګانِ دِين رَحِمَهُمُ اللّٰہُ تَعَالٰی د ”فِکرِ مدينه[1]“ انداز څومره اعلٰی وو او هغوئي به په څه طريقه د خپل نفس د اِصلاح د پاره د خپل نفس مُحاسَبَه کوله او هر وخت په نيکو کښې د مشغول اوسيدو باوجود به ئې خپل ځان ګنهګار ګڼړلو او هميشه به د **الله** تعالیٰ نه يَريدل، تر دې چه د ډيرې يَرې نه به د بعضو ساکاني وختلې. خو افسوس! زمونږه حالت دا دې چه شپه او ورځ په ګناهونو کښې د اخته اوسيدو باوجود نه **د پښيمانۍ احساس** لرو او نه **د آخرت يَره** لرو. زمونږه اَسلافو رَحِمَهُمُ اللّٰہُ تَعَالٰی به ټوله شپه عبادتونه کول او ډيرې ډيرې روژې به ئې نيولې او په کثرت سره به ئې نيك اعمال کول خو بيا به ئې هُم ځان د ټولو نه کمتر ګڼړلو او د **الله** تعالیٰ د يَرې نه به ئې ژړاګاني کولې.

راتيں زاری کر کر روندے، نيندا کھيں دی دَھوندے
فجريں اَو گنہار کہاندے، سب تھيں نيويں ہوندے

[1] د دعوتِ اِسلامي په مَدَني ماحول کښې خپلې مُحاسبې ته ”فِکرِ مدنيه“ وائي.

www.dawateislami.net

(يعني هغوئي داسې نيك بندګان دي چه شپې ئې په زارئ او فرياد كښې تيريږي او د هغې په وجه د هغوئي خوبونه وتښتي خو چه سحر شي نو د ټولو خلقو نه ځان زيات ګنهګار ګڼړي)

د هغوئي شان خو دا دې چه مُستَحَبّات پريښودل به ئې هُم د ځان د پاره ګناه ګڼړله او په نفلي عِبادت كښې كمې به ئې هُم جُرم ګڼړلو او د ماشوم والي خطاګانې به ئې هُم په ګناهونو كښې شميرلې حالانكه د نابالِغئ د ګناهونو حساب نشته. چنانچه

## د ماشوم والي خطا ورياده شو

يوځل حضرتِ سَيِّدُنا عُتبَه غُلام رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د يو كور په خوا تيريدلو نو بدن ئې په ريږدو شو او خُوَلې پرې راغلې! چه خلقو ترې تپوس وكړو نو وئې فرمائيل چه: دا هغه ځائ دې كوم ځائ كښې چه ما د وړوكوالي په عُمر كښې ګناه كړې وه! (تَنبِيهُ المُغترين ص٥٧ دار البشائر بيروت)

د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ماشوم والي ګناه د ياد ساتلو عجيبه انداز

منقول دي چه د حضرتِ سَيِّدُنا حسن بصري رَحْمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه نه په ماشوم والي کښې يوه ګناه شوي وه. نو هغوئي رَحْمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه به چه کله هُم نوې جامې ګنډلې نو د هغې په ګريوان به ئې هغه ګناه وليکله او هغې ته په کتلو به ئې اکثر دومره وژړل چه بيهوشه به شو. (تذکرةُالْاَوْلِياء ج۱،ص۳۹)

د اللّٰه رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　　صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## په ناقِصو نيکو اعمالو فخر کول

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! تاسو وليده؟ چه زمونږه بُزُرګانِ دِين رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی به خپل د ماشوم والي ګناهونه هُم ياد ساتل او د هغې په وجه به د اللّٰه تعالٰی نه څومره يَريدل او يو زمونږه د بدنصيبو دا حال دې چه د بالِغ کيدو باوجود قصداً (يعني اِرادتاً) کړي ګناهونه هُم هير کړو او خپلې ناقِصه نيکئ يادې ساتو او فخر پرې کوو.

www.dawateislami.net

## نيکي وکړه او هيره ئې کړه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! عقلمند هُم هغه دي څوك چه د نيکو کولو سعادت حاصل کړي او بيا ئې هيرې کړي او چه ګناه ترې وشي نو يادې ئې ساتي او د خپلې اصلاح د پاره په سختئ سره مسلسل په هغې خپله محاسَبه کوي بلکه په نيکو اعمالو کښ د کمې په وجه هُم خپل ځان رټي او هر وخت خپل ځان د اَللّٰهُ واحِدِقَهَّار عَزَّوَجَلَّ د قهر او غضب نه يَروي. هُم دا زمونږه د بُزرګانِ دِين معمول وو. چنانچه

## نن دِ څه څه کړي دي

اَميرُ المُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ به هره ورځ خپل احتساب کولو او چه شپه به شوله نو خپله ښپه به ئې په دُرَّه اُووهله او فرمائيل به ئې چه: اُووايه، نن دِ "څه څه" کړي دي؟

(اِحْيَاءُ الْعُلُوم ج۵، ص۱۴۱ دار صادر بيروت)

د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بي حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

# د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ عاجزي

حضرتِ سَیِّدُنا عُمَر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په عَشَرَۂ مُبَشِّره کښې يعني کومو لسو صحابۂ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُم اَجْمَعِیْن ته چه تاجدارِ رِسالت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د جَنَّت زیرې اوروليې وو په هغوئي کښې شامل دې او د حضرتِ سَیِّدُنا صديقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه پس د ټولو نه د افضل [يعني غوره] کيدو باوجود به ئې ډيره عاجزي کوله. چنانچه حضرتِ سَیِّدُنا اَنَــس بن مالِك رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: ما يو ځل حضرتِ سَیِّدُنا فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د يو باغ د ديوال خوا ته وليدو او هغوئي خپل نفس ته فرمائيل: "**واه!** تا ته خلق **اَمیرُ المُؤمِنِین** وائي (بيا ئې د عاجزئ په طور اُوفرمائيل) او (ته ئې چه) د **اللّٰه** تعالٰی نه نه يَريږې! (ياد ساته!) که تا د **اللّٰه** تعالٰی نه يَره ونکړه نو د هغه په عذاب کښې به ګرفتار شې."

(کیمیائے سعادت ج۲ص۸۹۲تھران)

**د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.** اٰمین بِجاہِ النَّبِیِّ الْاَمین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د حضرتِ سَیِّدُنا عُمَر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په دې شان خپل نفس ملامته کول او د **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ نه يَـرَول او د خپل نفس مُحاسَبَه کول زمونږ د تعليم د پاره هُم وو. چنانچه

www.dawateislami.net

## د قيامت نه مخکښ حساب

په يوه موقع حضرتِ سَيِّدُنا فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ارشاد اُوفرمائيلو: ”اے خلقو! د خپلو اعمالو د هغې نه مخکښ مُحاسَبَه وکړئ چه قيامت راشي او حساب ئې واخستې شي.“ (اِحْيَاءُ الْعُلُوم ج٥ ص١٢٨) د الله رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## مُحاسَبَه څه ته وائي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د خپلو تيرو اعمالو حساب کولو ته مُحاسَبَه وائي. کاش چه! هره شپه د ”فِکرِ مدينه[2]“ کولو په ذريعه مونږ ته د خپل نفس سره د تېولي ورځې د حساب کولو سعادت حاصل شي او دغسې مونږ ته د اعمالو په سرمايه کښې د ګټې او نقصان معلومات حاصليږي. څنګه چه په تجارت کښې د شريك کس نه په حساب اخستو کښې پوره پوره کوشش کيږي دغسې د نفس سره په حساب کتاب کښې هُم د ډير زيات احتياط ضرورت دې ځکه

2 د خپلې اصلاح کولو د بهترينې نُسخې ”مَدَني انعاماتو“ نه يو مَدَني انعام ”فِکرِ مدينه“ هُم دې يعني هره ورځ دِ د شپې د خپلو اعمالو حساب کوې او په دې دوران کښې دِ د مدني انعاماتو رساله هم ډکوې.

www.dawateislami.net

چه نفس ډېر چالاکه او بهاني جوړوونکي دې او دا مونږ ته خپله سرکشي هُم د عبادت په جامه کښې وړاندې کوي چه په بدئ کښې هُم مونږه ته فائده ښکاره شي حالانکه په دې کښې سراسر نقصان دې. صرف دا نه بلکه په صحيح معنو کښې د خپلې اصلاح د پاره په ټولو جائزو کارونو کښې هُم د نفس نه حساب اخستل پکار دي. که په هغې کښې مونږ ته د نفس قصور ښکاره شي نو په نفس باندې په سختئ سره هغه کمي پوره کول پکار دي. څنګه چه زمونږه د اَسلافو رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی عمل وو. چنانچه

## په بله ډيوه ګوته اېښودل

ډېر غټ عالِم او تابِعي بُزُرګ حضرتِ سَيِّدُنا اَحنَف بِن قيس رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه به د شپې ډيوه راواخستله او د هغې په لمبه باندې به ئې غټه ګوته کېښودله او داسې به ئې فرمائيل: اے نفسه! تا فلانکې کار ولې کړې دې؟ او فلانکې څيز دِ ولې خوړلې دې؟ (کيميائے سعادت ج۲ ص۸۹۳ تهران)

**د اللهُ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم**

يعني خپله **مُحاسَبَه** به ئې کوله چه که زما نفس غلطي کړي وي نو هغه ته خبرداري ورکړې شي چه دا د ډيوې لـمبه چه ډير کمزورې اور دې او بيا هُم نه برداشت کيږي نو د جَهنَّم اور به څنګه برداشت کړې شي! حُجَّةُ الاِسلام اِمام محمّد غزالي رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَيۡه هُم دغسې يو بل حکايت نقل کوي چه:

## کله به هُم بره ونه ګورم

حضرتِ سَيِّدُنا **مَجمَع** نومې يو بُزرګ رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَيۡه يو ځل بره وکتل نو د يوې کوټې په سر موجوده يوه ښځه ئې وليدله. فوراً ئې نظر ښکته کړو او دومره پښيمانه شو چه عَهد [يعني پخه وعده] ئې وکړه چه "آئنده به کله هُم بره ونه ګورم." (اِحۡيَاءُ الۡعُلُوم ج٥ ص١٤١ دار صادر بيروت)

**د اللّٰهُ رَبُّ الۡعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.** اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الۡاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

آنکھ اٹھتی تو میں جھنجلا کے پلک سی لیتا
دل بگڑتا تو میں گھبرا کے سنبھالا کرتا

**د شعر مفهوم:** کله به چه زما سترګې بره اوچتې شوې نو زه به وشرميدم او سترګې به مې ښکته کړې، چه کله به مې زړه بدئ طرف ته مائل شو نو په ويره به مې منع کړلو.

خوږو خوږو اسلامي وروڼرو! تاسو ولیده چه زمونږه اَسلافو به ځنګه مَدَنـي سوچ لرلو چه په خطا کښې ئې په نامَـحرَمه نظر پریوتو، حالانکه ناڅاپه پریوتو والا نظر معاف وي د دې باوجود هُم هغوئې بیا کله هُم د بره نه کتلو ښه اراده وکړله یعني مُستقِل ئې د سترګو "قُفلِ مدینه"[3] ولګوله.

آقا کی حیا سے جھکی رہتی تھی نگاہیں
آنکھوں پہ مرے بھائی لگا قفلِ مدینہ

د آقا به د حیا نه نظر ښکته وو اکثر
په سترګو زما وروره ولګوه قُفلِ مدینه

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## که د جَنَّت نه حصار کړې شوم نو بیا!

حضرتِ سَیِّدُنا اِبراهِیم بِن اَدهَم رَحۡمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡه یو ځل د غُسل کولو د پاره یو حَمّام ته لاړو. حَمّام والا ترې دِرهَم (یعني روپۍ) اُوغوښتلې او ورته ئې اُووئیل چه که دِرهَم ادا نه کړې نو دننه تللو ته دِ نه پریږدم. چه

[3] د دعوتِ اِسلامي په مدني ماحول کښې استعمالیدو والا د "قُفلِ مدینه" د اصطلاح د تفصیلي معلوماتو د پاره د اَمِیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَه تحریري بیان "خاموشه شهزاده" وَلوَلئ. مجلِس مَکتَبَةُ الْمَدِینه

هغه دا خبره وکړه نو هغوئ رَحمَۃُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په ژړا شو. حَمام والا پريشانه شو او عرض ئې وکړو چه: که دِرهَم درسره نه وي نو خير دې، تاسو هسې ولاړ مه ئ. هغوئي رَحمَۃُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه ورته اُوفرمائيل چه: زه ستا په حِصارولو نه ژاړم بلکه زه خو دې خبرې وژړولم چه د دِرهَم نه لرلو په وجه زه يو داسې حَمّام ته د ننوتلو نه حِصار کړې شوم چه په هغې کښې نيك او بد ټول لامبي. نو آه! که د نيکو د نِشت والي په وجه صبا زه جَنَّت ته د داخليدو نه حصار کړې شم چه هغه صرف د نيکو خلقو مُقام دې، نو زما به څه حال وي!

**د الله رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم**

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** دا د هغه پاکو هستيانو واقعات دي چه هغوئي د الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰی پرهيزګاره بندګان دي او هغوئي د وِلايت تاجونه په سر کړې دي. اوګورئ چه هغه اولياءِ کِرام رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی به د دومره غټو مرتبو لرلو باوجود د خپل نفس د اصلاح کولو د پاره څنګه خپله مُحاسَبه کوله او ځان به ئې عاجِزه او ګنهګار ګڼړلو. کاش چه! مونږه هُم د خپلې اصلاح جذبه لرلې او خپله مُحاسَبَه مو

www.dawateislami.net

کولې او په دې ژوند کښې د خپلو اَعمالو جائِزه اخستو کښې کامیاب شوي وي. د تیر شوي حِکایت نه معلومه شوه چه د **اللہ** تعالیٰ نیکو بندګانو به دُنیاوي مصیبتونه د آخِرت د یادولو ذریعه جوړول. په دې باره کښې یو بل **حِکایت** اوګورئ. چنانچه

## هتکړئ او بیړئ

**مُفَسِّرِ** قُرآن، **صاحِبِ خَزائِنُ الْعِرفان فِی تفسِیْرِ الْقُرآن**، خلیفۂ اعلیٰ حضرت صدرُ الافاضِل علّامه مولانا سیِّد **محمّد** نعیمُ الدِّین مُراد آبادي رَحْمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَيْه په خپل مشهور کتاب "سوانِحِ کربَلا" صفحه نمبر ٦٠ کښې فرمائي چه: د حَجّاج بِن یوسُف په دَوَر کښې دویم ځل حضرتِ سَیِّدُنا اِمام **زَینُ العابِدِین** رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قید کړې شو او د وسپنې په وزندارو زنځیرونو ئې کلک وتړلو او پهره دار ئې پرې مقرر کړل. مشهور **مُحَدِّث** حضرتِ سَیِّدُنا **اِمام زُهري** رَحْمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَيْه ورغلو او د هغوئي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ بد حالت ئې چه ولیدلو نو په ژړا شو او د خپل زړه د جذباتو اظهار ئې داسې وکړو: آه! ستاسو دې حالت ته زه کتلې نه شم، کاش چه! ستاسو په ځائ زه دلته قید او تړلې شوې وې! دا خبره ئې چه واوریدله نو جنابِ اِمام رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اُوفرمائیل: تاسو دا ګنړئ چه زه د دې قید او تړلو په حالت کښې پریشانه یم، حقیقت دا دې چه که زه

www.dawateislami.net

اُوغواړم نو د اللہ تعالیٰ په فضل و کرم اوس به آزاد شم خو په سزا باندې صبر کولو کښې اجر دې. په دې بیړو او زنځیرونو کښې د جَهنَّم د اور د خوفناکو زنځیرونو او د اور د بیړو او د عذابِ اِلٰهي یاد دې.'' دا ئې اُوفرمائیل او د بیړو او هتکړو نه ئې ښپې او لاسونه آزاد کړل!
**د اللہ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم**

## د ساګانو امیل

**حضرتِ** سیِّدنا حسنِ بصری رَحْمَةُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: ''زر کوئ! زر کوئ! ستاسو ژوند څومره دې؟ هم دا ساګاني خو دي چه که ودریږي نو ستاسو د هغه اعمالو سلسله به هم ختمه شي د کومو په ذریعه چه تاسو د اللہ تعالیٰ قُرب [یعني نزدیکت] حاصلوئ. اللہ تعالیٰ دِ په هغه کس رحم وکړي چا چه د خپلو اعمالو جائزه واخسته او په خپلو ګناهونو ئې یو څو اوښکي توئ کړي.''
(اِتحَافُ السَّادَةِ الْمُتَّقِیْن ج۱٤، ص۷۱ دار الکتب العلمیة بیروت)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

# بې عمله بې وقوفه دي

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! غور خو وکړئ چه مونږه خو د سر نه تر ښپو پورې په ګناهونو کښې ډوب يو، آخر داسې کومه ګناه ده چه مونږه ئې نه کوو؟ نيکئ زمونږ د لاسه نه کيږي او که وشي نو هُم د اِخلاص پېکښې د لږې لږې پورې څه نښه هُم نه وي او خلقو ته د خپلو نيکو اعمالو ښودلو په وجه په رياکارئ کښې اخته شو، زمونږ په اعمال نامه کښې نيکئ نشته او ورځ په ورځ د ګناهونو نه ډکيږي. خو افسوس چه! مونږه د دې بدو نتيجو او د خپل ځان د اصلاح هيڅ احساس نه لرو، او د دې باوجود مونږه ځان ډير عقلمند ګڼړو تر دې چه که څوك راته بې وقوفه يا کم عقل اُووائي نو د هغه دښمنان جوړ شو. خو تاسو پخپله اُووائې چه که د يو مفرور مُجرِم د پانسئ حُکم جاري شوې وي، پوليس وريسې ګرځي او هغه د خپلې ګرفتارئ نه بې پرواه وي او د خپل حفاظت هيڅ خيال نه ساتي او آزاد ګرځي راګرځي نو آيا هغه ته به عقلمند وئيلې کيږي؟ بالکل نه! بلکه داسې سړي ته به خلق بې وقوفه وائي.

# د دوزخ په دروازه نوم

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! چا ته چه وئيلي شوي وي "چه څوك قصداً نمونځ قضا کړي نو د جَهنَّم په دروازه د هغه نوم وليکلې شي." (حِلْيَةُ الْاَوْلِيَاء ج۷ص۲۹۹ رقم ۱۰۵۹ دارالکتب العلمية بيروت) او دا خبر هُم ورکړې شوې وي "چه څوك د رَمَضَانُ الْمُبَارَك يوه روژه هُم بې د شرعي عُذره او بې د مرضه قضا کړي نو د ټولې زماني روژې د هغې قضا نه شي کيدې اګرچه وروسته ئې ونيسي."[4] (سُنَنُ التِّرمِذِی،ج۲ص۱۷۵ حديث ۷۲۳ دارالفکر بيروت) او دا خبر هُم ورکړې شوې وي چه څوك د حج په زادِراه (يعني خرڅ خوراك) او سورلۍ باندې قادِر وي چه هغه ئې بيتُ الله ته رسولې شي او د دې باوجود حج ونکړي نو که غواړي يهودي جوړ شوي دِ مړ شي يا عيسائي جوړ شوي. (سُنَنُ التِّرمِذِی،ج۲ص۲۱۹ حديث ۸۱۲) [او دا خبر هُم ورکړې شوې وي چه] که تا وعده خِلافي وکړه نو ياد ساته، څوك چه وعده خِلافي کوي په هغه باندې د الله تعالیٰ او د فرښتو او د خلقو لعنت دې او د هغه به نه فرض قبليږي او نه نفل. (صَحِيْحُ الْبُخَارِی ج۱ص۶۱۶ حديث ۸۷۰ دارالکتب العلمية بيروت)[او

---

[4] يعني بې وجه چه څوك د رمضان يوه روژه قضا کړي نو د هغې په بدله کښې که ټول عمر روژې ونيسي هُم نو د ثواب په درجه کښې د رمضان روژې ته نه شي رسيدې، اګرچه شرعاً به په يوه روژه نيولو د هغې قضا پوره شي خو فرض ادا کول جُدا خبره ده او هغه درجه موندل جُدا خبره ده. (مِرأةُالمناجيح ج۳ص۱۶۷)

دا خبر هُم ورکړې شوې وي چه] که تا بدنظري وکړه، کومې نامَـحرمې زنانه ته دِ وکتل یا دِ اَمـرَد ته د شَهوت په نظر وکتل یا دِ په ټې وي، وي سي آر، اِنټرنیټ باندې او سینما وغیره کښې فِلمونه، ډرامې او د بې حیائۍ نظارې وکتلې نو یاد ساته! منقول دي: چا چه خپله سترګه د حَرام نه ډکه کړه الله تعالیٰ به په ورځ د قیامت د هغه سترګه د اور نه ډکه کړي. او څوك چه په دې خبره پوهه کړې شوې وي چه نزدې ده چه ته به مرې ځکه چه هر ساه لرونکي ته به مرګ راځي او چه وخت پوره شي نو بیا به مرګ یو ساعت هُم مخکښې وروسته کیږي نه. او دا خبر هُم ورکړې شوې وي چه د مرګ نه پس به هُغه قبر ته ځې چه هغه د مُجرِمانو د پاره توره تِیاره او د یَرې ځاې دې او په هغې کښې د مُجرمانو د پاره ماران لړمان او نور خزندګان هُم وي او په هغې کښې به په زرګاؤ کلونه پروت ئې. آه! قبر به هر یو کس زور کوي، نیکان به داسې زور کوي څنګه چه مور جُدا شوې اولاد په مینه سینې ته راجوختوي او د چا نه چه الله تعالیٰ ناراضه وي هغوئې به داسې زور کوي چه پوښتۍ به ئې ټوټې ټوټې شي او به یوه بله کښې به داسې ننوځي څنګه چه د دواړو لاسونو ګوتې په یوه بله کښې ورکړې شي. صرف دا نه، بلکه دا خبر هُم ورکړې شوې وي چه د قیامت یوه ورځ به د پنځوسو زرو کالو هُمره وي، او د نمر سترګه به یو میل له راشي او

اور به وروي او د حِساب کتاب سلسله به وي، د نيکانو د پاره به د **جَنَّت** راحتونه او د **مُجرِمانو** د پاره به د **جَهنَّم** آفتونه وي.

## د نادانئ اِنتِها

د دومره معلوماتو لرلو باوجود هُم که څوك د **الله** تعالیٰ نه **كَمَا حَقُّهٗ** [يعني څومره چه حق دې هغه هُمره] نه يَرِيږي. او د مرګ د سختو، د **قبر** د يَرو، د **قيامت** د احوال او د **جَهنَّم** د سزاګانو په صحيح معنو کښې يَره نه لري او د غفلت په خوب اُوده اوسي او **لـمونځونه** نه کوي، **روژې** نه نيسي او د فرض کيدو باوجود هُم د خپل مال نه **زکوٰة** نه اُوباسي، د فرض کيدو باوجود **حج** نه ادا کوي، **وعده خِلافي** کوي او د دروغو، غِيبت، **چُغلئ** او بدګُمانئ وغيره نه توبه نه کوي، د فلمونو او ډرامو شوق کوي او په ډير شوق **سندرې** اوري، د **مور و پلار** نافرماني کوي، کنزلې او د بې حيائې خبرې کوي، غرض دا چه خپله **اصلاح** بالکل نه کوي او بيا هُم ځان ته عقلمند وائي نو د داسې کس نه به زيات **بې وقوفه** څوك وي؟ او ډيره غټه بې وقوفي دا ده چه څوك ئې د **اصلاح** کولو کوشش کوي نو په بې پرواهئ سره دا وائي چه بس جي هيڅ خبره نه ده **الله** تعالیٰ خو رحيم او کريم دې، مهرباني او کرم به وکړي.

## د بخښنې اُمِيد لرل کله بې وقوفي ده؟

**حُجَّةُ الاِسلام** اِمام محمّد غزالي رَحمَةُ اللهِ تعَالٰی عَلَيْه په اِحْيَاءُ الْعُلُوم کښې فرمائي: [څوك چه] د ايمان تُخم ته د عبادت اوبه نه ورکوي يا زړه په بدو اخلاقو کښې اخته پرېږدي او په دُنياوي خوندونو کښې مصروفه اوسي او بيا د بخښنې انتظار کوي نو د هغه انتظار د يو بې وقوفه او په دوکه کښې د اخته کس انتظار دې. (اِحْيَاءُ عُلُومُ الدِّين ج٤، ص١٧٥، دار صادر بيروت) **نبئ اکرم** صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: عاجزه (يعني بې وقوفه) کس هغه دې څوك چه خپل نفس په خواهشاتو پسې چلوي او (د دې باوجود) د الله تعالٰی نه آرزو [يعني د بخښنې خواهش] لري.

(سُنَنُ التِّرمِذِی، ج٤، ص٢٠٧، ٢٠٨ حديث٢٤٦٧ دار الفِکر بيروت)

## وربشې کرل او د غنمو اُمِّيد بې وقوفي ده

**مُفَسِّرِ شَهِير حَكِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحمَةُ اللهِ تعَالٰی عَلَيْه د دې حديثِ پاك لاندې فرمائي چه: په دې حديثِ پاك کښې د عاجِز نه مُراد بې وقوفه دې، د **کَـيِّس** (يعني د عقلمند) مُقابِل، د نفسِ اَمّاره د دباو نه لاندې هغه **بې وقوفه** دې چه کارونه د دوزخ کوي او اُمِيد د جَنَّت لري او وائي چه الله غَفُوْرٌرَّحِيم دې.

کرلـي ئې باجره وي او اُمِید لري د غنمو ریبلو! او وائي چه الله غَفُورٌرَّحِیم دې د ریبلو په وخت کښې به د دې نه غنم جوړ کړي. اُمِید دې ته نه وائي. رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ فرمائي:

مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيْمِ (پ٣٠:الانفطار٦)

(مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: تا ته څه څیز فریب درکړو د خپل کرم والا رب نه)

او فرمائي:

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ الَّذِيْنَ هَاجَرُوْا وَ جٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۙ اُولٰٓئِكَ يَرْجُوْنَ رَحْمَتَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ (پ٢:البقرة٢١٨)

(مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: هغوئي چا چه ایمان راوړو او هغوئي چا چه د الله (عَزَّوَجَلَّ) د پاره خپل کورونه پرېښودل او د الله (عَزَّوَجَلَّ) په لار کښې وجنګېدل، هغوئي د الله د رَحمَت اُمید لري او الله بخښونکـې مهربانه دې)

وربشې کرل او د غنمو ریبلو اُمید لرل شیطاني دوکه او نفساني وسوسه ده. خواجه حسن بصري (رَحمۃُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیْہ) فرمائي چه: بعضې خلق دروغژنو اُمِیدونو د نیغي لاري او نیکو اعمالو نه لري کړي دي څنګه چه دروغ خبره ګناه ده هُم دغسې دروغژن اُمید لرل هُم ګناه ده.

(مِراٰةُالمناجیح ج٧ص١٠٢، ١٠٣، اَشِعَّه، ج٤، ص٢٥١، مِرقاة ج٩ص١٤٢)

www.dawateislami.net

## د جَهنَّم تُخم كرل او د جَنَّت د فصل انتظار!

**حُجَّةُ الاِسلام** اِمام محمّد غزالي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په اِحْيَاءُ الْعُلُوم كښې نقل كوي چه حضرتِ سَيِّدُنا يحيٰي بن مُعاذ رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: زما په نِزد د تېرولو نه غټه ګناه دا ده چه [په ګناهونو باندې] د پښيمانئ راوړولو نه بغير سرې [د بخښنې] په اُميد په ګناهونو كښې ورځ په ورځ نور اخته كيږي، او د اِطاعَت [يعني فرمانبردارئ] نه بغير د **الله** تعالٰی د نزديكت توقُّع لري، د جَهنَّم تُخم كري او د **جَنَّت** د فصل انتِظار كوي، د ګناهونو سره د عبادت ګُزارو خلقو كور (يعني جَنَّت) غواړي، د نيك عمل نه بغير د ثواب انتظار كوي او د ظُلم او زياتي كولو باجود د **الله** تعالٰی نه د خلاصي اُميد لري.

**تَرْجُوْالنَّجَاةَ وَلَمْ تَسْلُكْ مَسَالِكَهَا اِنَّ السَّفِيْنَةَ لَاتَجْرِىْ عَلَى الْيَبَسِ.** ته د خلاصي اُميد لرې خو د هغې په لارو نه ځې، يقيناً كشتئ په وچه نه ګرځي. (اِحْيَاءُ الْعُلُوم ج٤ ص١٧٦)

## مُصيبت د عِبرت باعِث دې

**ياد ساتئ!** **الله** تعالٰی بې نيازه دې. د هغه په بې نيازئ ځان داسې د پوهه كولو كوشش وكړئ چه آيا په دُنيا كښې په تاسو هيڅ تكليف نه

راځي ؟ آيا څه خفګان درته نه پيښيږي؟ آيا د تنګ دَستئ، قرض دارئ، بې روزګارئ نظارې مو کله نه دي ليدلـي؟ د حادثو سره کله نه ئې مخامخ شوي؟ د لاسو او ښپو نه معذوره خلق مو نه دي ليدلي؟ آيا په دُنيا کښې د تـکليفونو نظارې تاسو ته د جَهنَّم عذابونه نه درپادوي؟ يقيناً د دُنيا په تـکليفونو کښې د اَهلِ نظر [يعني غور و فِکر والؤ] د پاره د قبر او آخرت او جَهنَّم د عذابونو ياد دې. چنانچه ياد ساتئ! هغه **بې نيازه رب** عَزَّوَجَلَّ چه په دُنيا کښې بندګان په بيمارو، تـکليفونو او مصيبتونو کښې اخته کولې شي نو هغه د جَهنَّم عذاب هُم ورکولې شي.

## اللّٰه تعالیٰ روزي ورکولو والا دې او بيا هم ........

په دې خبره لږ غور وکړئ چه **اللّٰه** تعالیٰ روزي ورکونکې دې او بغير د وسيلې نه هُم په روزئ ورکولو قادِر دې په دې تاسو هُم ايمان لرئ او زه هُم. . آو بالکل هغه د هر يو روزي په خپله ذِمَّهٔ کرم اخستې ده، څنګه چه د دولسمې سيپارې په وړومبي آيت کښې اِرشاد دې:

وَ مَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْاَرْضِ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ رِزْقُهَا

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: او په زمکه ګرځيدو والا يو (ساه لرونکې) داسې نشته چه د هغه رِزق د **اللّٰه** (تعالیٰ) په ذِمَّهٔ کرم نه وي.

www.dawateislami.net

بيا د سوچ خبره ده چه **الله** تعالیٰ د روزۍ ذِمَّه اخستي ده نو آخر بيا ولې د رزق د پاره منډې ترړې وهۍ؟ ولې د يو ښار نه بل ښار ته ځۍ او د وطن نه بې وطنه کيږۍ او د مال ګټلو په لار کښې راتلونکې هر يو تکليف په خوشحالۍ برداشت کوۍ، ځکه چه دا ذِهن مو جوړ شوې دې چه که زه کوشش کووم نو روزي به راته حاصليږي او په حَرَکت کښې بَرَکت دې.

## اللّٰه تعالیٰ د هر يو د بخښنې ذِمَّه نه ده اخستي خو...

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! اللّٰه تعالیٰ د هر يو ساه لرونکي د روزۍ ذِمَّه په خپل کرم اخستي ده خو ياد ساتۍ! چه د هر مسلمان د ايمان د حفاظت يا د بې حِسابه مغفرت ذِمَّه ئې نه ده اخستې، خو بيا هُم خلق د روزۍ فِکر ډير کوي او د ايمان د حفاظت او د بې حسابه مغفرت غوښتلو د پاره هيڅ کوشش نشته، شايد دا وجه ده چه نن د ډيرو خلقو زړونه سخت شوي دي، په دې وجه د دُنيا د پاره سختۍ برداشت کوي، د دُنيا ګټلو د پاره هره ورځ اته، لس بلکه دولس دولس ګينټې د ګانړۍ د غوئې په شان تاويدو ته تيار دي. خو هائے افسوس چه! د ايمان د حفاظت او بې حسابه مغفِرت غوښتلو د پاره

ورته كه څوك صرف د درې ورځو د پاره په مَدَني قَافِلَه كښې د سفر كولو درخواست وكړي نو انكار كوي او دا وائي چه زمونږ سره وخت نشته. مَعَاذَالله لكه د حال نه ئې چه دا معلوميږي.

نفس و شیطان نے بدمست کیا بھائی ہے
ہم نہ سدھرے ہیں، نہ سدھریں گے، قسم کھائی ہے

د شعر تَرجَمَه: يعني مونږه خپل نفس او شيطان داسې مست كړي يو لكه قسم مو چه كړې وي چه نه به سم شو، او نه سميږو.

## الله تعالیٰ بې نيازه دې

يقيناً الله تعالیٰ بغير د څه سببه صرف په خپل رَحمت جَنَّت ته داخلولو باندې قادِر دې. خو د هغه د بې نيازۍ نه يَريدل ضروري دي، ځكه چه هغه په يوه ګناه نيول او جَهنَّم ته غوزارول كولې شي. په "مُسنَدِ اِمام اَحمَد بِن حَنبَل" كښې د اَللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ مبارك ارشاد نقل كړې شوې دې: "كه دا خلق جَنَّت ته لاړ شي بيا هُم ما ته د دې خبرې هيڅ پرواه نشته او كه دوئي جَهنَّم ته ځي بيا هُم ما ته د دې خبرې هيڅ پرواه نشته." (مُسنَدِاِمام اَحمَدبِن حَنبَل، ج٦ص٢٠٥ رقم١٧٦٧٦ دار الفِكر بيروت)

لِهٰذا مونږ ته پكار دي چه د جهنَّم نه ځان بچ كولو او په جَنَّتُ الفِردوس كښې د داخليدو د پاره خپل دا ذهن جوړ كړو چه "زه خپله

www.dawateislami.net

اصلاح غواړم" او د دې د پاره په خپل زړه كښې د اللّٰه تعالیٰ يَره او د مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عِشق پيدا کولو پوره پوره کوشش وکړو. د اللّٰه رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ په فضل و کرم چه مونږه ځان د ګناهونو نه ساتو او د لمُونځونو او سُنّتونو پابندي کوو او په مَدَني قَافِلو کښې سفر کوو، هره شپه د "فِکرِ مدينه" په ذريعه د "مَدَني انعاماتو" رِساله ډکوو او بيا ئې هره مياشت خپل "ذِمّه دار" ته جمع کوو نو په فضل د اللّٰه تعالیٰ او په وسيله د مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د جَهنَّم نه بچ شو او جَنَّت ته به داخِل شو او هُم دا اصل کاميابي ده. څنګه چه په څلورمه سيپاره سورۀ آلِ عِمران آيت نمبر ۱۸۵ کښې اَللّٰهُ رَحمٰن عَزَّوَجَلَّ ارشاد فرمائي:

فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَاُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ ؕ

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِیمان: څوك چه د اور نه بچ کړې شو او جَنَّت ته داخِل کړې شو هغه مُراد ته ورسيدو.

## د خپلې اصلاح د پاره توبه وکړئ

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! بهرحال د هغه د رَحمت نه مايوسه کيدل هُم نه دي پکار او د هغه د بې نيازئ نه غافِله کيدل هُم نه دي پکار او د خپلې اصلاح د پاره هر وخت کوشش جاري ساتل پکار دي. زه دا اُميد لرم چه په مونږه کښې د هر يو مسلمان دا خواهش دې چه

**زه خپله اصلاح غواړم**، نو څوك چه واقعي خپله اصلاح كول غواړي هغه دِ د خپلو تيرو شوو ګناهونو نه په رښتيني ځړه توبه وكړي، بېشكه **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی توبه قبلوونكي دې. ستاسو د ترغيب د پاره تاسو ته د توبه كولو په فضائلو مُشتمِل درې **اَحادِيثِ مُباركه** وړاندې كووم:

**فرمانِ مُصطَفٰی** صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې: ﴿۱﴾ بنده چه كله د خپلې ګناه اعتراف وكړي بيا توبه وكړي نو **الله** تعالٰی د هغه توبه قبلوي.“ (صَحِيْحُ الْبُخَارى ج۲ ص۱۹۹ حديث ۲۶۶۱ دارالكتب العلمية بيروت) ﴿۲﴾ په حديثِ قُدسي كښې دي چه: **الله** تعالٰی اِرشاد فرمائي: ”اے زما بندګانو! تاسو ټول ګنهګار يئ سِوا د هغه نه چا ته چه زه سلامتي وركړم نو په تاسو كښې چه څوك په دې پوهه شي چه زه په بخښنه باندې قادِر يم بيا هغه زما نه بخښنه اُوغوښتله نو زه به هغه اُوبخښم او ما ته هيڅ پرواه نشته.“ (مِشْكَاةُ الْمَصَابِيح ج۲ ص۴۲۹ حديث۲۳۵۰ دارالكتب العلمية بيروت)

﴿۳﴾ **فرمانِ مُصطَفٰی** صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې: څوك چه داسې دُعا وكړي:

اَللّٰھُمَّ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ سُبْحَانَكَ عَمِلْتُ سُوْٓءًا اَوْ ظَلَمْتُ نَفْسِیْ فَاغْفِرْلِیْ اِنَّهٗ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اَنْتَ

يعني اے **الله** عَزَّوَجَلَّ! ستا نه سِوا هيڅ څوك د عبادت لائق نشته، ستا ذات پاك دې، ما بد اعمال كړي دي او په خپل نفس مې ظُلم كړې دې، ما اُوبخښه

www.dawateislami.net

ځکه چه ستا نه سِوا بل بخښونکي نشته.“ نو الله تعالیٰ فرمائي: زه د هغه ګناهونه بخښم اګرچه هغه د میږو د شمیر هُمره وي.

(کَنْزُ الْعُمَّال ج۲، ص۲۸۷ رقم ۵۰٤۹ دارالکتب العلمية بيروت)

## ښه ښه نِیّتونه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! الله تَبَارَكَ وَتَعَالیٰ دِ ستاسو د ټولو توبه قبوله کړي، ستاسو د ټولو ایمان دِ سلامت وساتي، تاسو ته دِ بیا بیا د حج سعادت درکړي، بیا بیا دِ د ګُنبَدِ خَضرا دیدار درنصیب کړي، تاسو دِ مُخلِص عاشِقِ رسول جوړ کړي او دا ټولې دُعاګانې دِ زما بدکاره، د ګنهګارانو د سردار په حق کښې هُم قبولې کړي. هِمَّت وکړئ او د نن نه دا پخه اراده وکړئ چه ”زه خپله اصلاح غواړم“ لِهٰذا نور به زه یو لمُونځ هُم نه قضا کووم....... اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ، د رَمَضَانُ الْمُبَارَك یوه روژه به هُم نه قضا کووم....... اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ، فِلمونه او ډرامې به نه ګورم...... اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ، سندرې او سازونه به نه اورم..... اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ، ګِیره به نه خریم..... اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ، د یو مُوټې نه به ئې نه وړووم...... اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ، د دعوتِ اسلامي د سُنَّتو د تربِیَّت په مَدَني قافِلو کښې به هره میاشت درې ورځې سفر

کووم...... اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ، هره ورځ به د **فِکرِ مدینه** په ذریعه د **مَدَني انعاماتو** رِساله ډکووم او د هرې مَدَنـي میاشتې په یکم تاریخ به ئې خپل ذِمَّه دار ته جمع کووم...... اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ،

الٰہی رحم فرما میں سدھرنا چاہتا ہوں اب
نبی کا تجھ کو صدقہ میں سدھرنا چاہتا ہوں

اِلٰهی رحم وکړې زه نور نیك جوړیدل غواړم
په خاطر ستا د نبي زه نور نیك جوړیدل غواړم

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د بیان په آخره کښې د سُنَّتو فضیلت او یو څو سُنَّتونه او آداب د بیانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: "چا چه زما د سُنَّتو سره مَحَبَّت وکړو هغه زما سره مَحَبَّت وکړو او چا چه زما سره مَحَبَّت وکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي."

(مِشْکَاةُ المصابیح ج۱ ص۵۵، حدیث۱۸۵ دارالکتب العلمیة بیروت)

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا
جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِینه مې دِ شي جوړه د سُنَّتو مدینه خوږه آقا
جنّت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډې خوږه آقا

# د ”اِثمِـد“ د خلورو حُروفو په نِسبت د رانـجو لګـولو خلور مَدَنــي ګلونه

﴿۱﴾ د سُنَنِ اِبنِ ماجه په رِوايت کښ دي، ”په ټولو رانجو کښ بهتر رانجه ”اِثمِـد“ دي ځکه چه دا نظر روښانه کوي او بانړه راخيژوي.“ (سُنَنِ اِبنِ مَاجَه ج٤ ص١١٥ حديث٣٤٩٧) ﴿۲﴾ د کانړي رانجو لګولو کښ باك نشته او تور رانجه يا کاجَل د زينت (يعني ډَوَل) په نِيَّت د سړي د پاره لګول مکروه دي او که زِينت مقصد نه وي نو کَراهَت نشته (عالمګيری ج٥، ص٣٥٩) ﴿۳﴾ رانجه د اُوده کيدو وخت کښ استعمالول سُنَّت دي (مِرأةُ المناجيح ج٦ ص١٨٠) ﴿٤﴾ د رانجو استعمالولو د درې منقولو طريقو خُلاصه ستاسو په خِدمت کښ وړاندې کووم: (۱) کله په دواړو سترګو کښ درې درې سلائيان (۲) کله په ښئ سترګه کښ درې او په کينړه [يعني ګڅه] سترګه کښ دوه، (۳) نو کله په دواړو سترګو کښ دوه دوه او بيا په آخِره کښ يو ځل سِلائي په رانجو کښ اُووهئ او هغه وار په وار په دواړو سترګو کښ پورې کړئ. (انظر: شُعَبُ الْاِيْمان لِلْبَيْهَقِي ج٥ ص٢١٨، ٢١٩ دارالكتب العلمية بيروت) داسې کولو سره به اِنْ شَــآءَالـلّٰـه تعالٰی په درې واړو عمل کيږي.

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د تکريم [يعني د احترام لائق] چه خومره کارونه وو هغه ټول به زمونږه خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ښي طرف نه شروع کول. لِهٰذا مخکښې په ښئ سترګه کښې رانجه پورې کوئ او بيا په ګڅه کښې. د رانجو د سُنَّتو په باره کښې د تفصيلي معلوماتو حاصلولو د پاره او نور په سوونو سُنَّتونه زده کولو د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوې د ۱۲۰ صفحو کتاب "سُنَّتيں اور آداب" هديه کړئ او ولولئ. د سُنَّتو د تربِيَّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي په مَدَني قافِلو کښې د عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دې.

سيکھنے سنّتيں قافلے ميں چلو — لوٹنے رحمتيں قافلے ميں چلو
ہوں گی حل مشکليں قافلے ميں چلو — ختم ہوں شامتيں قافلے ميں چلو

زده کړئ ښکلې سُنَّتونه قافِلو کښې لاړ شئ
وګټئ ډير رحمتونه قافلو کښې لاړ شئ
حل به موشي مشکِلونه قافلو کښې لاړ شئ
شي به لرې آفتونه قافلو کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! — صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

## نیك او نمونځ ګزاره جوړېدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ځائ کښې کېدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره د ښو ښو نِیّتونو سره ټوله شپه تیروئ د سُنّتو د تربیّت د پاره په **مَدَني قافِلو** کښې د عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د دري ورځو سفر او هره ورځ د "**فِکرِ مَدِینه**" په ذریعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په یکُم تاریخ ئې د خپل ځائ ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد: "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي."** اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپل ځان د اصلاح د پاره په "**مَدَني انعاماتو**" عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار په "**مَدَني قافِلو**" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ











مكتبة المدينة
MAKTABA TUL MADINAH
MC 1286

www.dawateislami.net

فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدینه (کراچۍ)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 1262

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net